عبدالباری جهانی


۲۰۲۲/۰۳/۲۱

# شاهنامه او تاريخي افسانې

## د فردوسي د شاهنامې تاريخي پس منظر:

لکه څرنګه چي د فردوسي شاهنامه له عجايبو او غرايبو څخه ډکه ده او له سره تر پايه د شيرينو افسانو يو اوږد داستان دی، چي سرې يې فوکلوري تاريخ بللای سي؛ دغه ډول پخپله د شاهنامې تاريخ او د فردوسي تر قلم پوري رسېدلو نکل هم په افسانو کي پټ دی. خو موږ به يې د هغه نکل، چي نسبتا ډېر مشهور دی، يوه لنډه خلاصه را واخلو؛ څکه چي په يوه لنډ مضمون کي ټوله کيسه نه ځايېږي.

ويل کيږي چي د شاهنامې اساس د ساسانيانو يوه له تر ټولو مشهورو پاچاهانو انوشېروان عادل کېښېنود. انو شېروان عادل، چي ويل کيږي کليله و دمنه هم د ده په وخت کي له هند څخه ايران ته يووړل سوه او په پهلوي ژبه ترجمه سوه، د پخوانيو پاچاهانو د کيسو د ټولولو او له هغوی څخه د پند او عبرت اخيستلو لېواله وو. هغه د خپل دربار پوهانو ته امر وکړ چي د کيومرث له زماني څخه، چي عجم يې تر ټولو پخوانی او لومړنی پاچا بولي، بيا د ده تر زماني پوري د پاچاهانو د کړنو او پېښو په باره کي يو کتاب وليکي. دهغه د دربار پوهانو شاهنامه وليکله چي وروسته کرار کرار مواد ورباندي زيات سول. سعد بن وقاص ته، د ايران د فتح کولو په نتيجه کي، د يزدګرد له خزانو څخه دا کتاب هم په لاس ورغی. هغه دا کتاب خليفه عمر بن خطاب ته واستاوه او کله چي هغه ته ځيني برخي ولوستلي سوې نو هغه امر وکړ چي کتاب دي په عربي وژباړل سي. د عربو او حبشي د پخوانی دوستی له مخي، دا کتاب له ځينو نورو قيمتي سوغاتونو سره حبشي ته ولېږل سو. دا کتاب په حبشه کي ترجمه سو؛ له هغه ځايه هند ته ورسېدی او کله چي قدرت يعقوب الليث صفاري ته ورسېدی نو هغه امر وکړ چي دا کتاب ورته راوړي او خپل معتمدالملک ابومنصور عبدالرزاق بن عبدالله ته يې امر وکړ چي په فارسي يې ورته وژباړي. له دغه کتاب سره يې د خسرو پرويز له زماني بيا د يزدګُرد تر ماتي او وژل کېدلو پوري ټول نکل اضافه کړ. دا کتاب بالاخره سامانيانو ته ورسېدی د آل سامان پاچاهانو د قيقي بلخي ته د هغه د منظومولو وظيفه ورکړه. دقيقي ايله زر بيته منظوم کړي وه چي د خپل غلام له لاسه ووژل سو او د نظم کار نيمګړی پاته سو. کله چي نوبت په غزني کي سلطان محمود بن سبکتګين ته ورسېدی او هغه د دې کتاب له وجوده خبر وو او پخپله يې هم د پاچاهانو له داستانونو سره مينه درلوده نو غوښتل يې چي يو څوک هغه ورته منظوم کړي. سلطان په لومړي سر کي غوښتل چي د دې کتاب منظومول خپل د دربار تر ټولو مشهور او نازولي شاعر عنصري ته وسپاری. هغه ته لا دا کتاب نه وو سپارل سوی چي له قضا څخه فردوسي له طوس څخه غزني ته ولاړ او د شاعرانو او سلطان په حضور کي يې د ډېرو لږو فی البديهه نظمونو په ويلو او په شاهنامه کي د پوهي لرلو په وسيله خپل لياقت ثابت کړ او د دې مهم کتاب د ترجمه کولو وظيفه هغه ته ورکړه سوه.

ويل کيږي چي سلطان محمود له فردوسي سره د هرو زرو بيتونو په بدل کي د زرو طلاوو ژمنه کړې وه خو داسي ښکاري چي سلطان د فردوسي د زحمتونو په بدل ورکولو کي پر خپل قول نه وي درېدلی او ډېري لږي پيسې يې، چي فردوسي د ځان او خپلو زحمتونو او ادبي شهکار لپاره سپکاوی باله، ورکړي وي. فردوسي له غزني څخه پټ روان سو



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولېږئ: info@arianafghanistan.com

او ویل کیږي چي د سلطان محمود او د هغه د دربار په غندنه کي یي څه باندي دوه زره بیتونه ولیکل. د قهستان حکمران ناصرلک، چي د سلطان محمود مخلص وو، په دې کیسه خبر سو. د فردوسي یې ډېر قدر وکړ او هغه ته یې زاری وکړې چي دا بیتونه نشر نه کړي. فردوسي ته یې سل زره درهمه ورکړل او له هغه څخه یې ټول جوړ کړي هجویه بیتونه واخیستل. فردوسي د دې پیښي په باره کي لیکلي دي:

به غزني مراګرچه خون شد جګر

ز بیداد آنشاه بیدادګر

کزان هیچ شد رنج سي ساله ام

شنید از زمین آسمان ناله ام

همیخواستم تا فغانها کنم

بګیتی ازو داستانها کنم

بګویم زمادرش نیز از پدرش

نترسم بغیر از خداوند عرش

کنم آنچنان روسیه از نخست

که نتواند آنرا به هیچ آب شست

چو دشمن نمیداند از دوست باز

به تیغ زبانش کنم پوست باز

ولیکن ز فرموده محتشم

ندانم کزین بیش سر چون کشم

فرستادم ار ګفته ای داشتم

بنزدیک خود هیچ نګذاشتم

اګر باشد این ګفتها ناصواب

بسوزان در آتش بشو آن در آب

رسد لطف یزدان بفریاد من

ستاند بمحشر ازو داد من

له دې څخه وروسته د فردوسي له باقي ژوند سره ډېري افساني او کیسي تړلي دي خو یوه مشهوره کیسه یې دا ده چي د قهستان حاکم له فردوسي سره د لیدلو او له سلطان څخه د هغه د شکایت کولو نکل د سلطان محمود تر غوږونو رسولی وو او سلطان د هغه له ژبي څخه سخت بېرېدلی وو. د فردوسي د راضي کولو لپاره یې هغه ته څلوېښت یا شپېته زره


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

طلاوي ورلېږلي وې خو دا طلاوي په داسي وخت کي  هغه ته ورسېدلي چي فردوسي په هغه ورځ وفات سوی وو؛ او طلاوو او انعامونو هیڅ ګټه نه ورته کوله.

د فردوسي شاهنامي یا پخپله فردوسي ته د سلطان محمود څخه د شکایت په اړه، په څه کم یو سل اولس بیتونو کي، یوه اوږده هجویه منسوبه ده. په دې هجو کي یې د سلطان ډېره زیاته  غندنه کړې ده. خو منقدین یې د فردوسي شعر او کلمات نه بولي. که څه هم چي د فردوسي له شاهنامي سره دا هجویه معمولاً چاپ ته سپارل کیږی خو کلام د هغه نه ګڼل کیږي. البته له دې اوږدې هجو څخه ښکاري چي فردوسي له سلطان څخه ډېر سخت ناراض وو؛ کنه نو چا به پر دونه اوږده نظم باندي، که پخپله د فردوسي نه وي، ځان نه وو ستړی کړی.

بسی رنج بردم درابنسال سي

عجم زنده کردم بدین پارسي

اګر شاه را شاه بودي پدر

بسر برنهادي مرا تاج زر

و ګر مادر شاه بانو بودي

مراسیم و زر تا بزانو بودي

بزرګي سراسر بګفتار نیست

دوصد ګفته مانند نیم کردار نیست

دا معلومات مي د هغي شاهنامي له مقدمي څخه چي په دې مضمون کي مي استفاده ورڅخه کړې ده را اخیستي دي.

د فردوسي د شاهنامي ادبي او تاریخي ارزښت:

د فردوسي شاهنامه، چي یوازي اته ځله په انګلیسي او درې ځله په جرمني او د نړی په نورو لویو ژبو ترجمه سوې ده، نه یوازي د فارسي، نه یوازي د سیمي بلکه د نړی د ادبیاتو په لاړ کي د یوه ځلېدونکي الماس حیثیت لري. د شهنامي د شپېتو زرو بیتونو څخه،

تن شاه محمود آباد باد

سرش سبز بادا دلش شاد باد

بدو ماندم این نامه را یادګار

بشش بیور ابیاتش آمد هزار ( ۶۰۰۰۰)

چي د فردوسي د تقریبا پنځه دېرشو کالو زیار محصول ده، اکثریت بیتونه یې دونه ښایسته دي چي سړی ویلای سي چي لیکل یې د هر شاعر کار نه دی او دا چي اته ځله یوازي په انګرېزي ژبه ترجمه سوې ده نو خبره یوازي د متن او تاریخي افسانو نه بلکه د شکل ښایست هم دی. خو د فردوسي شهنامه، د خپل ټول ادبي ارزښت او لوی والي سره سره، تر ډېره ځایه افسانوي حیثیت لري او پر ایران او د هغي خاوري پر تاریخی عظمت باندي د یوه مین شاعر د احساساتو ښکارندوی ده. د فردوسي شهنامه د تاریخي ارزښت له مخي، ډېر کمزوری څه چي، په بشپړه توګه یو افسانوي کتاب دی. زموږ ځینو محققینو له هغه څخه د یوه تاریخي سند په حیث کار اخیستی او ښایي له لوستونکو څخه یې، په ټاکلو


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلي مقالي دی آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

مسايلو کي، لاره ورکه کړې وي. د مثال په توګه، په دې منظومه کي موږ ګورو چي جمشيد اووه سوه کاله پاچهي کوي. ضحاک تازي تر زر کاله پاچهي او د فريدون په لاس تر پرزېدلو وروسته لا هم ژوندی دی او د دماوند په غرونو کي بندي کيږي. پخپله فريدون پنځه سوه کاله پاچهي کوي. رستم په سل هاوو کلونه ژوند کوي او يوازي د انسانانو او لښکرو په جنګ ځه چي د لويو دېوانو په جنګ ورځي او له هر ميدان څخه بريالی را ځي. د فردوسي شاهنامه، په لومړي سر کي، د نه منلو په افسانو پيل کيږي او دا افساني وروسته د ساسانيانو په دوره کي، کرار کرار يو څه تاريخي رنګ اخلي؛ او د يزد ګُرد او عربو د لښکرو د مخامخ کېدلو صحنه خو يې، په بشپړه توګه، تاريخي رنګ لري.

کله چي يو شاعر او ليکوال، د خپلي خاوري او اولسونو د ستايلو لپاره افسانه ايجادوي نو د خپلو اولسونو د شجاعت، سخاوت او ټولو ښېګڼو د ستايلو او د غليمانو په غندلو کي نسبتا آزاد لاس لري. هغه کولای سي خپلو قهرمانانو ته د سلو جنګياليو سره په يوه تن جنګېدلو زور ورکړي. هغه خپل قهرمانان د دېوانو او پېريانو په جنګونو وروستلای او بريالی را ستنولای سي. مګر کله چي خبره تاريخي حقايقو ته رسيږي او په تاريخ کي د يادو سويو کسانو او پېښو يادونه کيږي نو بايد چي له احتياط څخه کار واخلي او چي له خپل اولس او قهرمانانو سره هر څومره مينه ولري بايد چي له تاريخي واقعيتونو څخه تېر نه سي. شاعر او ليکوال، په دغه صورت کي، د خپل کلام بشپړ مسوليت لري. او د افساني ليکلو او منظومولو په څېر يې لاس آزاد نه دی.

فردوسي هم پر خپلي خاوري مين دی او شاهنامه يې، تر ډېره ځايه د همدغي اورنی ميني محصول ده. د فردوسي لپاره ځان او جهان ټوله ايران دی او چي په شعر کي د ښکلا، عظمت، قهر، شجاعت او هر څه مفاهيم کارول کېدلای سي هغه يې د خپلي خاوري لپاره کارولي دي. د ايران سره د فردوسي مينه د جنون په سرحد کي ده؛ ځکه يې نو کله کله څه چي په اکثرو ځايونو کي واقعيتونه تر ايرانيت قرباني کړي دي. د فردوسي د ايرانيت احساسات سړی خصوصا ، د کتاب په پای کي، هغه وخت ښه درک کولای سي چي د اسلام لښکري، د سعد بن ابي وقاص په مشری، د ايرانيانو سره، د قادسيې په جنګ کي مخامخ کېږي. په دغه وخت کي نو د فردوسي شاهنامه يوازي د تاريخي افسانو شاعرانه تصوير نه بلکه پخپله د تاريخي پېښو تحريف سوی بيان دی. دلته کله کله فردوسي دونه د ايرانيت تر احساساتو لاندي راځي او د عربو په مقابل کي داسي کلمات استعمالوي چي سړی د هغه پر مسلماني باندي شکمن کيږي. هغه عربو ته دومره په غوسه دی او دومره سپک خلک يې بولي چي د داسي يوه هيواد چي زيات و کم خلورسوه کاله يې د مسلمانی کيږي، د يوه مسلمان شاعر سره نه ښايي؛ ځکه چي دا وخت د عربو نوم له اسلام سره تړلی دی او مسلمانان، چي په سر کي يې معمولاً عربان دي، چي هره جګړه کوي نو هدف يې د اسلام د دين خپرول دي. د قادسيې جنګ د هجرت په پنځه لسم کال کي پېښ سو او د ايران د ساسانيانو وروستي پاچا يزدګُرد، چي ايراني او خارجي مورخين يې ډېر بې زړه او بېرندوکی بولي، او يوازي فردوسي يې د توري، شجاعت او اصليت صفت کوي، خپل تر ټولو زړه ور او مشهور سپه سالار رستم فرُخ زاد د عربو مقابلې ته واستاوه. رستم فرخ زاد، له خپلو ډېرو جنرالانو او زړه ورو جنګياليو سره، د قادسيې په جنګ کي، ماته وکړه او له لس هاوو زرو جنګياليو سره په جنګ کي د ماتي قرباني سو. فردوسي د قادسيې د جنګ او د عربو د وروسته فتوحاتو په باره کي وايي:

چو بخت عرب بر عجم چيره شد

همی بخت ساسانيان تيره شد

برامد شاهان جهانرا قفيز

نهان شد زر و گشت پيدا پشيز

همان زشت خوب و شده خوب زشت

شده راه دوزخ پديد از بهشت

کله چي رستم فرخ زاد، يزد ګُرد ته د هغه د مشورې په خلاف، د سعد بن ابي وقاص جنګ ته استول کېږي؛ رستم د جنګ په ميدان کي فال ګوري. فالبينان هغه ته ښه زېری نه ورکوي او دغه راز لا له عربو سره د هغه جنګ او خپل سرنوشت په باره کي يو ډېر بد خوب هم ويني ؛ نو خپل وروړته ، د جنګ له ميدان څخه ، يو زړه ماتوونکی او وېرووونکی ليک استوي او پکښي وايي:

بايرانيان زار گريان شدم

ز ساسانيان نيز بيزار شدم

دريغ آن سرو تاج و اورنگ و تخت

دريغ آن بزرگي و آن فر و بخت

کزين پس شکست آيد از تازيان

ستاره نگردد مگر بر زيان ...

چو با تخت منبر برابر شود

همه نام بوبکر و عمر شود

تبه گردد اين رنجهای دراز

نشيبی دراز است پيش فراز

نه تخت و نه ديهيم بيني نه شهر

ز اختر همه تازيانراست بهر

او په دي ترڅ کي رستم، د جنګ په ميدان کي، سعد بن ابی وقاص ته د يوه ليک په ترڅ کي عربان داسي خلک بولي چي د اوښي په شيدو ګوزاره کوي او شرموونکی خوري. مګر په دغه حالت کي دونه زړه ور او ګستاخ سوي دي چي د ايران د تخت و تاج د لاندي کولو شوق ور ولاړسوی دی؛ نو توف دي پر اسمان وي.

زشير شتر خوردن و سوسمار

عرب را بجايی رسيداست کار

که تاج کيانرا کند آروزی

تفوی باد بر چرخ گردان تفوی

شمارا بديده درون شرم نيست

زراه خرد مهر و آزرم نيست

بدينچهر و ين مهر و اينراه و خوی

همی تخت و تاج آيدت آرزوی.


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلي مقالي دي آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

د فردوسي ایرانی غرور دا هم نه سي منلای چي د هغه وطندار سپه سالار، رستم فرخ زاد دي د یوه عادي عرب سره په جنګ کي د هغه په توره ووژل سي. ځکه نو خپل افسانوي قهرمان رستم فرخ زاد، لړترلړه د سیالی په خاطر، د عربو د لوی او میدانونو آزمیېلي قهرمان سعد بن ابي وقاص سره، په تن په تن، جګړه کي مخا مخ کوي چي تر سختي جګړي او مقابلي وروسته رستم وژل کیږي. کله چي فردوسي خپل قهرمان له سعد بن ابي وقاص سره مخامخ کوي نو وایی چي رستم د تندر په څیر غړمبېدی او د سعد پر اس باندي یي د توري ګوزار وکړ او هغه یي له آس څخه لاندي وغورځاوه؛ او غوښتل یي چي په بل ګوزار یي سر له تنه بېل کړي چي ناڅاپه دوړي سوي او د رستم له سترګو هرڅه پټ سول. او سعد بن ابی وقاص هغه د تورو په پرله پسي ګوزارونو وواژه.فردوسي وایی د قادسیي جنګ درې ورځي دوام وکړ او د ایرانیانو پوځ د اوبو له داسي کمبود سره مخامخ سو چي پخپله رستم ته هم د چېنلو لپاره اوبه نه رسېدلي او آسونو او انسانانو د حلقونو د لمدولو لپاره ختي خوړلي؛ او په دي وخت کي لا ګردو غبار هم سو.

لب رستم از تشنگي شد چو خاک

زبان گشت اندر دهان چاک چاک

چنان تنگ شد روزگار نبرد

گل تر بخوردن گرفت اسپ و مرد

خروشي برآمد بکردار رعد

ازینروی رستم و زانروی سعد

برفتند هردو ز قلب سپاه

بیکسو کشیدند از آوردگاه

چو از لشکر هر دو تنها شدند

بزیر یکي تند بالا شدند

همي تاختند اندران رزمگاه

دوسالار بر یکدیگر کینه خواه

خروشي برآمد ز رستم چو رعد

یکي تیغ زد بر سر اسپ سعد

تکاور ز درد اندر آمد بسر

جدا گشت ازو سعد پرخاشگر

برآهیخت رستم یکي تیغ تیز

بدان تا نماید بدو رستخیز

همیخواست ز تن تا سرش رابرید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلي مقالي دی آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

ز گرد سیاه این مرآنرا ندید

فرود آمد از اسپ ذرین پلنگ

بزد بر کمر بر سر پا لهنگ

بپوشید دیدار رستم ز گرد

بشد سعد پویان ز جای نبرد

یکي تیغ زد بر سر ترک اوی

که خون اندرآمد ز ترکش بروی

چو دیدار رستم ز خون تیره گشت

جهانجوی تازي بر او چیره گشت

دگر تیغ زد بر سرو گردنش

بخاک اندر افگند جنگی تنش

فردوسي وایي کله چي، یو گړی وروسته، ایرانیان د خپل لوی سپه سالار له وژل کېدلو څخه خبر سول نو په ایراني لښکرو ماته ګډه سوه او ډېر نامتو ایرانیان ووژل سول. فردوسي وایي دا وخت د ایران پاچا یزدگرد په بغداد کي وو او کله چي د رستم د وژل کېدلو او د ایران د پوځ د ماتي خبر ورته ورسېدی نو اوښکي يې تويي کړې.

فردوسي د دې مهم جنګ په باره کي، چي د ساسانیانو د امپراطوری سرنوشت يې تعین کړ، موږ ته ټول حقایق په شاعرانه خو تحریف سوي شکل رارسوي. په داسي حال کي چي ټول تاریخي متون موږ ته وایي چي سعد بن ابي وقاص، د قادسیې د جنګ د لوی سپه سالار په حیث، په میدان کي له سره برخه نه درلوده نو ځکه د رستم سره، په جنګ کي د هغه د مخامخ کېدلو خبره بېخي مطرح نه ده. سعد بن ابي وقاص خپلو نورو قوماندانانو ته د جبهې له مرکز څخه هدایتونه ورکول او رستم د یوه بل عرب په لاس ووژل سو؛ البته یوازي د فردوسي ایرانی غرور دا حقیقت نه سي منلای. تاریخ طبري، چي اکثرو اسلامي مورخینو تعقیب کړی دی د دې وروستیو پېښو تفصیل داسي راکوي:

« د ورځي په نیمایی کي د پارسیانو د پوځ په مرکز کي درز ولوېدی او پر هغوی باندي ډېري سختي دوړي پرېوتلې. ډېر توند باد لګېدی او د رستم د تخت چتر يې وشلاوه... قعقاع او له هغه سره ملګري کسان تخت ته نیژدې ورغلل او ويې لیدل چي هغه خالي دی. رستم دغه وخت هغو یابو ګانو ته ورغلی وو چي په دغه ورځ يې بارونه راوړي وه او دی د هغوی په منځ کي تر یوې لویی خېمي لاندي پټ وو.

هلال بن علقمه د هغي خیمي تناوونه وشلول چي رستم تر لاندي پټ وو او د هغه یو لوی تیر پر رستم باندي را ولوېدی، چي هلال هغه نه لیدی. د رستم د ملا هډوکي مات سول او هلال د توري ګوزار پر وکړ. رستم له هغه ځایه پورته سو او په یوه غارکي ولوېدی. هلال په رستم پسي، چي په اوبو کي لوېدلی وو، ورغی؛ له اوبو څخه يې را وایستی او په توره يې پر سر وواهه او مړ يې کړ. هلال د هغه مړی د یابو ګانو په پښو کي وغورځاوه او د رستم له تخت څخه يې ناري کړي چي رستم ووژل سو ستاسي دي د کعبې په خدای قسم وي زما خواته راسی. خلک د هغه پر شاوخوا باندي را وګرځېدل. تخت نه معلومېدی، رستم چا نه لیدی او ټولو د الله اکبر ناري پورته کړې. په دغه وخت کي د مشرکانو لښکر تیت و پرک سو او ماته په ګډه سوه... وروسته له جنګ څخه لاسته راغلي غنیمتونه، چي مسلمانانو تر دغه وخته پوري هیڅکله نه وه لیدلي، میدان ته راغلل. سعد، هلال ور وباله او له هغه څخه يې سوال وکړ چي رفیق دي څه سو؟



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

هلال ورته وويل چي د يابوګانو په پښو کي مي غورځولی دی. سعد ورته وويل چي ورسه رايي وړه. هلال ولاړ او د رستم مړی يې راووړ» تاريخ طبری. ص ص ۱۷۳۹-۱۷۳۸

مسعودي هم وايي چي رستم د هلال بن علقمه په لاس ووژل سو او ليکي چي د رستم له وژل کېدلو څخه وروسته مشرکان وبېرېدل او په تېښته کي سوه. دی وايي چي دېرشو زرو عسکرو ځانونه په ځنځيرونو او تناوونو سره تړلي ول او په نور او آتشکدو يې سوګند ياد کړی وو چي تر څو پوري يې په جنګ کي بری ترلاسه کړی نه وي يا وژل سوي نه وي له ځايه به ښور نه خوري او هغوی ټول ووژل سول. مسعودي وروسته ليکي چي په دغه ورځ ضرار بن خطاب د کاويان بيرغ، چي د پړانګ له پوست څخه جوړ سوی او ټول په جواهرو کي پټ وو، تر لاسه کړ او ديرش زره ديناره يې واخيستل. په داسي حال کي چي د بيرغ اصلي بيه دوه ميليونه دوه سوه زره ديناره وه. دی وايي چي په دغه ورځ د کاويان د بيرغ پر شاوخوا باندي پر هغو دېرشو زرو فارسيانو برسېره لس زره نور هم ووژل سول. مسعودي. مروج الذهب، ص ص ۶۷۶-۶۷۵

موږ ګورو چي فردوسي له خپل ايراني غرور څخه ، چي د يوه ايراني په حيث حق هم لري، کار اخلي او د خپل قهرمان او د عربو د سپه سالار سعد بن وقاص تر منځ د جنګ صحنه داسي جوړوي لکه دی چي په جنګ کي حضور لري؛ مګر د ده قهرمان د يوه عادي عرب جنګيالي په لاس وژل کيږي. په داسي حال کي چي سعد د هغه جنګ په ورځ ناروغ وو او له خپل ځايه څخه نه دی خوځېدلی.

« له مسلمانانو څخه يوه تن په هغه ورځ يو شعر وواېه:

موږ وجنګېدلو او خدای مو بری په برخه کړ

او سعد په قادسيه کي په خپل قصر کي پټ وو

له جنګ څخه راغلو او ډېري ښځي کونډي سولي

مګر په کونډيانو کي د سعد ښځي نه وې.

وايي کله چي دا خبري سعد ته ورسېدلي نو هغه دباندي راووت او پر خپل ورانه باندي ختلي داني يې خلکو ته وښودلي او خلکو يې عذر قبول کړ ځکه چي سعد بېرندوکی او بې زړه سړی نه وو» طبري ص ۱۷۵۳

دغه راز د فردوسي هغه خبره هم سمه نه ده چي وايي پر ايراني پوځ باندي اوبه دونه کمي سوې چي د رستم ژبه په خوله کي وچه سوه او عسکرو او آسونو ختي خوړلي او ستوني يې په لندول. موږ ګورو چي هلال بن علقمه ، له جنګه تښتېدلی رستم، د اوبو په ډنډ کي پيدا کوي او وژني يې.

يزد ګرد او ماهويه يا د شاهنامي ماهوی سوري:

د شاهنامي وروستۍ پرده، د فردوسي د داستانونو او افسانو د وروستي قهرمان يزدګُرد د وژل کېدلو تراژيدي ده. يزدګُرد، چي ټول تاريخي متون يې يو بې زړه، بېرندوکی او تښتېدلی پاچا بولي، چي خپله ټوله پاچهي يې، له خپلو لښکرو، خزانو او قلاوو سره، يوازي د يوي لويې ماتي له امله، خپلو دښمنانو ته پرېښودله او په تېښته ولاړ، د فردوسي لپاره بيا هم يو قهرمان، زړه ور، اصيل او د سترګو تور دی. يزدګُرد، د قادسيي له جنګ څخه وروسته، څه باندي پنځه لس کاله په وېره او تېښته کي ژوند وکړ.

فردوسي د خپل تاريخ څخه دومره بېخبره دی چي وايي يزدګُرد په دغه وخت کي په بغداد کي وو چي د قادسيي په جنګ کي د ايرانيانو د ماتي خبر ورته ورسېدی.

ببغداد بود آنزمان يزدګُرد


لطفاً مقالات خود را به اين آدرس ارسال بداريد | مهرباني وکړئ خپلې مقالي دي آدرس ته وليږئ: info@arianafghanistan.com

که اورا سپاه اندرآمد بگرد

بگفتند با او که رستم نماند

زآنغم بدریا درون نم نماند

په داسي حال کي چي د بغداد پر ځای په دغه وخت کي يو وړوکی کلی وو؛ او ښار له سره آباد سوی نه وو او د بغداد د ښار تيره، له دي پيښو څخه څه باندي ۱۳۰ کاله وروسته، د عباسيانو د دوهم خليفه ابوجعفر منصور په وخت کي کښېښودله سوه. زيدان ص ۷۱ له هغه وخته څخه وروسته، بغداد د اسلامي خلافت او تمدن مرکز او د نړی له ټولو مشهورو، ښايستو او شته منو ښارونو څخه سو.

يزدگرد په دې نسبتا اوږده پنځه لس کلنه موده کي دومره ښارونو او سيمو ته په تېښته ولاړ چي ژوند يې په افسانو کي پټ دی او تاريخي متون چنداني توافق نه ورباندي لري او د دې مسلې څېړل موږ له موضوع څخه ليري کوي. يزدګُرد، د خپل له لاسه تللي قدرت د شوربدلي قلمرو په ټولو حکمرانانو او پهلوانانو کي بالاخره د مرو پر حکمران يا مرزبان ماهويه، يا د فردوسي په اصطلاح ماهوی سوري نژاد، باندي حساب کوي او له هغه څخه د مرستي غوښتنه کوي.

جهاندار چون کرد آهنگ مرو

بماهوی سوري کنارنگ مرو

هغه ته يو خط استوي او د وروستيو غم لړلو پيښو او د سعد بن وقاص په لاس د خپل لوی سپه سالار د وژل کېدلو غم ورسره شريکوي. له هغه څخه د مرستي غوښتني په ضمن کي د چين د خاقان څخه د مرستي غوښتلو يادونه هم ورته کوي. البته هيڅ تاريخي متن ماهويه ته د يزدګُرد ددی لېږل سوي ليک په باره کي څه نه دي ويلي او دا ليک د فردوسي د خپل شاعرانه ذوق محصول دی. او يو ځل بيا يې پر سعد بن وقاص باندي زره تش کړی او هغه يې داسي بې دانشه سړی بللی دی چي اصل او وطن يې معلوم نه دی.

ز رستم کجا کشته شد روز جنگ

ز تيمار برما جهان گشت تنگ

بدست يکی سعد وقاص نام

نه بوم و نه زاد و نه دانش نه کام

تو با لشکرت رزم را ساز کن

سپه را براين برهم آواز کن

بمرو آيم و کس فرستم بدين

بخاقان ترک و به فغفور چين

وزايشان بخواهم فراوان سپاه

مگر بخت برگشته آيد براه

هيوني برافگند برسان باد



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلي مقالي دي آدرس ته ولېږئ: info@arianafghanistan.com

بنزدیک ماهوی سوري نژاد

فردوسي له دې ځخه وروسته بيتونو كي، لكه مخكي چي مو وويل، د يزدګُرد د لوی والي، اصيل والي او پوځي لياقت صفت كوي. د هغه د پلرونو او نيكونو د يزدان شناسی صفت يې كړی دی، چي پخپله د زردشت د مذهب ستايلو ته ضمني اشاره ده. وروسته عرب، چي په دغه وخت كي د اسلام د دين د خپرولو يوازينی لښكر دی، ډېر په سپكه يادوي او حتی جاهل، بې نوم او نښانه او بې ننګه يې بولي. فردوسي وروسته دومره له حاله وزي، چي مسلماني ورڅخه هيريږي او د زردشت په آتشكدو او آتش پرستی پسي ارمان كوي او وايي چي قدرت د داسي نژاد په لاس ورغی چي نور به نو په هر هيواد او سيمه كي ظلم او ناروا پيل سي او دا د نوشيروان د خوب، چي د ايران د تياره راتلونكي لپاره يې ليدلی وو، تعبير بولي.

ز شاه جهان يزدګُرد بزرګ

پدر نامور شهريار سترګ

سپهدار ايران و پيروز ګر

نګهبان و جوينده‌ء بوم و بر

زتخم بزرګان يزدان شناس

که از تاج دارند ز اختر سپاس ...

چنين است پركار چرخ بلند

که آيد بدين پادشاهي ګزند

ازين زاغ ساران بي آب و ننګ

نه هوش و نه دانش نه نام و نه ننګ

بدين تخت شاهي نهادست روی

شكم ګرسنه مرد ديهيجوی

انوشيروان ديده بود اين بخواب

كزين تخت بپراګند رنګ و آب ...

هم آتش بمردی و آتشكده

شدی نور نوروز و جشن سده

بايران و بابل زكشت و درود

بچرخ زحل برشدي تيره دود

كنون خوابرا پاسخ آمد پديد

زما بخت ګردون بخواهد كشيد



لطفاً مقالات خود را به اين آدرس ارسال بداريد | مهرباني وكړئ خپلې مقالي دې آدرس ته وليږئ: info@arianafghanistan.com

شود خوار هر کس که بود ارجمند

فرومایه از بخت گردد بلند

پراګنده ګردد بدي در جهان

ګزند آشکارا و خوبي نهان

به هر کشوري در ستمکاره‌ء

پدید آید و زشت پتیاره‌ء

سرې نه پوهېږي چي سلطان محمود غزنوي، د یوه تینګ سني مسلمان په حیث، چي د بُت شکن لقب یې درلود او د ملتان د اسماعیلیانو د ځپلو او ریښي ایستلو لپاره یې لښکرکښۍ کولي؛ او دربار یې تول له سني علماوو او شاعرانو ډک وو، څرنګه لا فردوسي ته انعامونه ورکول. څکه چي د فردوسي په مقابل کي د سلطان د ذهنیت د خرابولو لپاره د هغه د شاهنامي دري ځلور بیتونه کافي وه.

د قادسیې په جنګ کي د ایراني پوځونو د لویي ماتي څخه بیا د یزدګُرد تر وژل کېدلو پوري، په دې زیات و کم پنځه لسو کالو کي، پېښي دونه مغشوشي او په افسانو کي نغښتي دي چي تاریخي متون چنداني اتفاق نه ورباندي لري او دا موضوع زموږ له مضمون سره چنداني اړه هم نه لري. دونه معلومه ده چي د مرو حکمران ماهویه د یزدګُرد په وژلو کي برخه لري یا لږترلږه له هغه سره دونه نامردي کوي چي، د فردوسي په قول، هغه زړه ور او جنګیالی پاچا تېښتي ته مجبورېږي. له ځو ورځو سرګردانیو او لوږي او تندي څخه وروسته یوې ژرندي ته رسیږي. ژرند ګرې یې وژني، پخپله ژرندګرې هم د ماهوی په امر وژل کیږی او ماهوی خپل ځان پاچا ګڼي.

د فردوسي په قول، ماهوی، چي یو کم اصل او کم ذاته انسان وو او له شپونی څخه د مرو حکمرانی او سپه سالاری ته رسېدلی وو، د یزدګُرد د له منځه وړلو لپاره، د سمرقند له واکمن بیژن سره ، چي په بل هیڅ تاریخي متن کی نسته، لاس یو کوي؛ او کله چي د هغه په مرسته یزدګُرد له منځه وړي او ځان پاچا کوي نو پخپله پر بیژن باندي هم د حملي پلان تري. د بیژن سپه سالار برسام د ماهوی مقابلي ته وزي. ماهوی سوري وژني او لږ وروسته بیژن پخپله هم لېونی کیږي او پخپله خپل ځان وژني. د فردوسي ایرانی غرور او د انتقام لمبه د ماهوی په تش وژل کېدلو نه قانع کیږي بلکه هغه ته، پخپل شاعرانه تصور کي، راز راز سزاوي او شکنجي ورکوي؛ بیژن د ماهوی لاسونه او پښي ورغوځوي، سترګي یې باسي، پر سره ریګ باندي یې لمر ته غورځوي او په عذابونو کي یې وژني. بالاخره بیژن هم په خپله سزا رسیږي.

بدو ګفت بیژن که ای بدنژاد

که چون تو پرستار کس را مباد

چرا کشتي آنداد ګر شاه را

خداوند پیروزي و ګاه را

پدر بر پدر شاه و هم شهریار

ز نوشیروان در جهان یادګار

چنین داد پاسخ که بر بد کنش

نیاید مګر کشتن و سرزنش



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلي مقالي دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

بدن بد کنون گردن من بزن

بینداز در پیش این انجمن

بدو داد پاسخ که ایدون کنم

که کین از دل خویش بیرون کنم

به شمشیر دستش ببرید و گفت

که این دست را در بدي نیست جفت

چو دستش ببرید گفتا دو پای

ببرند تا ماند ایدر بجای

بفرمود تا گوش و بینیش پست

ببرید و بر بارکي بر نشست

بفرمود کانرا بدین ریگ گرم

بدارید تاخوابش اید ز شرم .

سره له هغه چي د یزدګُرد وژل کېدلو پېښه، د هغه د ژوند د وروستیو پنځه لسو کالو په څېر، په افسانو کي پټه ده، خو تقریبا ټول مورخین په دې عقیده دي چي هغه په ۳۱ هجري قمري کي وژل سوی دی. « ژرندګړی یزدګُرد ته ورغی د هغه پر سر یې ډېره ایله کړه او مړ یې کړ. وروسته یې د هغه سر پرې کړ او ماهویه ته یې را ووړ او بدن یې د مرغاب په رود کي خوشي کړ. د مرو اسقف راغی ؛ د یزدګُرد مړی یې د مرغاب له اوبو څخه را وایستی؛ په تابوت کي یې کښېښود او په استخر کي یې خاورو ته وسپاره » طبري ص ۲۱۴۷

خو مور، د فردوسي د خوښي او معلوماتو  په خلاف، له دې پېښي څخه تقریبا پنځه کاله وروسته، د حضرت علي د خلافت په زمانه کي د مرو له حکمران ماهویه سره مخامخ کیږو. هغه لا هم ژوندی دی؛ نه یې لاسونه او پښي ورڅخه پرې کړي دي او نه یې لمر ته غورځولی او په شکنجو کي وژلی دی. او څرنګه چي مسلمانانو ته  د جزیې ورکول ورڅخه غوښتل کیږي نو د دې معنی دا ده  چي لا مسلمان سوی نه دی. بیا هم د طبري د تاریخ په یوه ځای کي لولو « ابوجعفر وایي: په دغه کال، لکه څرنګه چي ویل کیږی د مرو مرزبان ماهویه علي ته راغی او  هغه صلح یې تایید کړه چي د هغه او د ابن عامر ترمنځ سوې وه.

ابواسحق وایي: د مرو مرزبان ماهویه ابراز د جمل له جنګ څخه وروسته علي بن ابي طالب ته راغی او علي هغه ته مکتوب ولیکی.

د مرو دهقانانو، سپرو او سپه سالارانو ته یې ولیکل:

د رحیم او رحمن خدای په نامه

پر ټولو هغو کسانو دي رحمت وي چي د هدایت پیرو دي. اما بعد د مرو مرزبان ماهویه ابراز ماته راغی او له هغه څخه راضي یم.

په کال شپږدیرش کي ولیکل سو.


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالي دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

وايي: هغه ډله وروسته له هغه بيرته کافران سول او د ښار دروازې يې وتړلې» طبري ص ۲۴۹۴

بلاذري، چي خپل تاريخ فتو ح البلدان يې د طبري په زمانه کي ليکلی دی هم د دغي پېښي يادونه کوي. « وايي: کله چي علي بن ابي طالب د خپل خلافت په وخت کي په کوفه کي وو، د مرو مرزبان ماهويه د هغه په خدمت کي حاضر سو. علي سپرو عسکرو او افسرانو ته ليک واستاوه او په هغه کي يې ورته وليکل چي ده ته جزيه ورکړي. د خراسان خلکو جزيه ونه منله. علي جعده بن هبيره مخزومي، چي د ابوطالب د لور ام هاني زوی وو، هغه ځای ته واستاوه. مګر فتح يې ونه کړه او د خراسان چاري د علي تر وژل کېدلو پوري همداسي ګډي وډي پاته سوې» بلاذري ص ۲۹۲

البته د يعقوبي له متن څخه داسي ښکاري چي ماهويه لړترلړه يو ځل خراج ورکړی دی. يعقوبي ليکي« کله چي علی د جمل له جنګ څخه فارغ سو نو جعده بن هبيره بن ابي وهب مخزومي يې خراسان ته واستاوه او هلته د مرو له حکمران ماهويه سره مخامخ سو. هغه ته يې مکتوب وليکی او د هغه پيشنهادونه يې لاسليک کړل او ورته وې ويل چي په هغه اندازه خراج چي ورته ټاکل سوی دی هغه ورکړي. نو د هغه منل سوي قرارداد سره سم يې په ټاکلي اندازه مال تحويل کړ. يعقوبي دوهم جلد ص ۸۲

سړی حيران پاتېږي چي فردوسي د دومره تاريخي متونو او اسنادو د موجوديت سره سره دونه په سپينو سترګو دروغ ولي وايي او دا کوم ليونتوب دی چي په ده باندي ژوندی سړی په خيال او تصور کي عذاب کشه کوي او د هغه په شکنجه کېدلو يې زړه نه سړېږي . زه دا نه سم ويلای چي فردوسي به ولي، د ټولو تاريخي متونو په خلاف، د مرو د حکمران ماهويه لپاره ماهوی سوري نژاد ليکلی وي. سړی فقط دونه ويلای سي چي دا کومه غلطي نه بلکه قصدي کار دی؛ دی ماهوی يو کم اصل او غير مستحق سړی بولي چي يزدګرد احسان ورسره کړی او له شپونتوب څخه يې حکمرانی ته رسولی دی؛ نه پوهېږم چي د ماهوی له نامه سره د سوري په دې لاحقه به يې خپل مطلب افاده کړی وي کنه. زه په دې عقيده يم چي له ماهوی سره د سوري نژاد له ترلو څخه د فردوسي مطلب دا دی چي دا وښيي چي هغه لړترلړه اصيل ايرانی نه وو او په کوم بل اصل او نژاد پوري يې اړه درلوده. خو د فردوسي متن زموږ له ځينو محققينو سره دا غلط فهمي پيدا کړې ده چي ماهوی د پښتنو سوريانو سره وتړي او له همدغه نسله يې وبولي. خو که موږ پښتني شجرو ته اهميت ورکړو بيا نو ګورو چي د سوري قبيلي لوی نيکه به ان په دريمه هجري پېړۍ کي زېږېدلی او يا نه وي زېږېدلی. چي په دې حساب د شهنامي له هغه ماهوی سوري سره چي د لومړۍ هجري پېړۍ په سر کي ژوند کوي څکه ارتباط نه سي پيدا کولای چي د سوريانو د لوی او لومړي نيکه زېږېدلو ته لا پېړۍ پاته دي.

د افغانستان لپاره د شاهنامي اهميت:

شاهنامه، لکه مخکي چي مي اشاره ورته وکړه، داسي ادبي شهکار دی چي پر هنري ارزښت باندي يې په هيڅ توګه سترګي نه سي پټېدلای. داسي کلمات او الفاظ پکښي کارول سوي دي چي د جواهرو حيثيت لري او سړی ويلای سي چي په خپل جنس کي داسي يګانه کتاب دی چي د سيمي په ادبياتو کي، تر اوسه پوري، بل نه دی ايجاد سوی. خو له تاريخي پلوه، په تېره بيا پر ايران باندي د عربو د حملي، په جنګ کي د ايرانيانو د قادسيي د ماتي، د يزدګرد له تېښتي او، د فردوسي په قول، ماهوی سوري تر وژل کېدلو پوري د نه منلو له افسانو ډک کتاب دی؛ چي دا برخه يې بايد په غور او احتياط ولوستل سي.

د افغانستان نامتومورخ او محقق مرحوم احمدعلي کهزاد، چي د افغانستان د تاريخ، په تېره بيا پخواني تاريخ، په ليکلو او نړۍ ته په معرفي کولو کي يې تر شمېر زيات خدمتونه کړي دي، شاهنامي ته د افغاني احساس له زاويي څخه ګوري. هغه وايي چي د افغان کلمه د شاهنامي په شهادت زر کلنه سابقه لري.

د افغان کلمه هسي هم، د حدودالعالم په استناد، زرکلنه سابقه لري او له هغه څخه وروسته يې هم نورو کتابونو يادونه کړې ده؛ مګر په شاهنامه کي د افغان کلمه نسته او هغه متن چي د رستم او کک کهزاد، چي افغان بلل سوی دی، تر منځ د مقابلي يادونه کوي هغه شاهنامه نه بلکه د ټولو محققينو په اتفاق د شاهنامي لاحقه ده، چي د شاهنامي له ليکل کېدلو


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولېږئ: info@arianafghanistan.com

ځخه تقریبا درې سوه کاله وروسته ورپورې نبنلول سوې ده. که په لاحقه کې د افغان نوم یاد سوی دی نو په ښه نوم نه دی یاد سوی بلکه د شهنامې د قهرمان رستم په مقابل کې د یوه بشپړقوم سپکاوی پکښې سوی دی. البته په رستم او د هغه په پلار زال یې دونه لاپې کړې دي چې په حقیقت کې یې زال او رستم هم سپک کړي دي.

مرحوم کهزاد وایي چې فردوسي خراسان ته د خپل هیواد په سترګه ګوري، غزني د خپل هیواد پایتخت بولي او سلطان محمود زابلي ته د خپل شهنشاه په سترګه ګوري او هغه په حقیقت کې د ایران شهنشاه بولي. زه مرحوم کهزاد او د هغه خدمتونو ته په بشپړ احترام او د خپلو مخکنیو مثالونو په استناد ویلای سم چې فردوسي له پوست ځخه د هډوکو تر مغز پورې یوازې ایرانی وو او که یې د سلطان محمود صفتونه کړي دي نو هغه یې ښایي د صلې او انعام له خامې طمعې ځخه کړي وي. او په هغو زمانو کې چې سلطانانو شاعرانو او مداحانو ته په طلاوو بار یابوګان بخښل نو شاعرانو هم د هغوی د ستایلو او مدحې لپاره سرحدونه نه درلودل. فردوسي کولای سوای چې سلطان محمود ته  د ایران شهنشاه نه بلکه د دنیا شهنشاه ووایي. خو کله چې یې خوا ورته بده سوې ده نو بیا یې په هغه اندازه هجو  هم کړې ده. او که د قهستان حکمران واسطه سوی نه وای او  هغه ته یې سل زره درهمه ورکړې نه وای ښایي فردوسي سلطان محمود ډېر سخت ټکولی وای.

مرحوم کهزاد له دې امله هم د فردوسي ستاینه کوي چې د هغه په کتاب کې د اوسني افغانستان د ډېرو ښارونو یادونه سوې ده. په شاهنامه کې د افغانستان د ښارونو یادول ریشتیا هم ښه خبره ده او تر یوه ځایه شاهنامې ته افغاني رنګ ورکوي مګر دا به هغه وخت ډېر مهم وای چې د دغو افغاني ښارونو یادونه  تر شاهنامې مخکې  په نورو کتابونو کې نه وای سوې. په داسې حال کې چې له شاهنامې ځخه ځه باندې سل کاله مخکې، په فارسي او عربي ژبو، تاریخ لیکونکو او جغرافیه لیکونکو دا سیمې هم په تاریخي پېښو کې یادې کړي او  هم یې له جغرافیایي، اقتصادي او سیاسي پلوه په نسبتا بشپړه توګه معرفي کړي دي. فردوسي ښایي له دې ښارونو سره ځکه علاقه ښودلې  او ځکه یې په بار بار یاد کړې وي  چې هغه ښارونه او سیمې یې د ایران خاوره بلله.

که ځه هم چې د فردوسي ژوند، د هغه د شاهنامې د قهرمانانو په څېر، په افسانو کې پټ دی؛ او د کلام د دومره ښایست او زور سره یې د ژوندحالات نه دي ځرګند خو پر دې یوې خبرې باندې د فردوسي د ژوند او شهنامې څېړونکي متفق دي چې هغه د سلطان محمود له درباره ځخه په ښه زړه نه دی وتلی. که شاعرانو او مداحانو ته د سلطان محمود بخششونو ته وګورو چې د خپلو مداحانو کورونو ته یې په پیسو بار پیلان ورلېږل او د عنصري خوله یې د ایاز د قیچي کړو زلفو د ستایلو لپاره، د دوو بیتونو د ویلو په بدل کې، د جواهراتو ور ډکه کړه نو دا نه سي کېدلای چې د فردوسي د دونه لوی ادبي شهکار په بدل کې دې د هغه زړه خوشاله نه کړي. او  هغه دې دې ته مجبور کړي چې د سلطان محمود په هجو کې ځه باندې سل بیتونه ولیکي. که چیرې، د فردوسي د ژوند په باب، د روایاتو مطابق، سلطان محمود په ریشتیا هم پر فردوسي باندې دونه په غوسه سوی او دونه تش لاس یې خوشې کړی وي چې هغه د ځه باندې دوه زره بیتونو هجا جوړولو ته مجبور کړي نو زه یقین لرم چې د محمود د غوسې علت به د شهنامې هغه وروستې بیتونه وي چې په ځرګنده د عربو د لویو سپه سالارانو سپکاوی پکښې سوی او په مقابل کې د ساسانیانو دونه ستاینه پکښې سوې ده چې د هغوی په زردشتي مذهب او آتشکدو پسې یې هم ارمان کړی دی. په هر صورت، د فردوسي شهنامې ته باید یوازې او یوازې د یوه ستر ادبي شهکار په سترګه وکتل سي او که حتما د هغې مضمون او تاریخي ارزښت ته هم ګورو نو هغه د یوه ایراني شاعر د افراطي ایرانیت ښکارندوی دی؛ او وروستی برخه یې له تاریخي اړخه بېخي کمزورې او د پېښو تحریف سوی داستان دی.

خراسان او آریانا:

مرحوم احمد علي کهزاد « افغانستان درشاهنامه» کتاب له خپل وطن افغانستان سره د ژورې مینې په اساس لیکلی او په حقیقت کې ډېر ژور او د قدر وړ تحقیق دی؛ البته دا ادعا یې د تأمل وړده چې وایي زموږ مملکت چې په معاصر تاریخ کې افغانستان نومیږي، په اسلامي دوره کې خراسان او د اسلام ځخه مخکې قدیمو زمانو کې د آریانا په نوم یادېدی. په


info@arianafghanistan.com لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ:

داسي حال کي چي آريانا او خراسان دواړه جغرافيايی نومونه  او مفهومونه دي او پر کوم سياسي قلمرو باندي نه اطلاقيږي. آريانا يوې منطقي ته ويل کېدله چي کله کله به افغانستان پکښي شامل وو او خراسان هم يوه منطقه وه چي د اوسني افغانستان ډيري برخي پکښی شاملي وې.

د انترنيټ د تعريف په اساس، آريانا د يوې سيمي د معرفي کولو لپاره يوه عمومي جغرافيايي اصطلاح وه چي ځينو پخوانيو يوناني او رومي ليکوالانو د يوې پراخي سيمي د پاره چي د مرکزي اسيا او اندوس د رود ترمنځ پرته وه استعمالوله. په دې کي د هخامنشيانو د عصر د امپراطوری ختيځ ايالتونه چي په هغه کي ټول اوسنی افغانستان او د ايران ختيځي سيمي د اندوس تر سيند او پاکستان پوري شامل وه آريانا بلل کېدله. مرحوم عبدالحی حبيبي يې، د ويدي سرودونو په حواله، آرياناويجه بولي چي وايی اويجه اوس هم په پښتو د سيمي او آرامگاه په معنی استعماليږی. حبيبي د تاريخ پوهانو په حواله وايي چي آرياناويجه د پامير يا د خوارزم د سيمي شاوخوا او د خزر د درياب څنډي په برکي نيولې. حبيبي ص ۸

پخپله مرحوم کهزاد هم د آريانا د حدودو په برخه کي وايي چي د ختيځ لوري سرحد يې اندوس، جنوبي حد يې د هند سمندر، شمالي خط يې د پاروپاميزوس د غرونو سلسله او يوه سلسله نور کوهستانونه وو چي د هند له شمال نه د خزر تر بندره پوري يې اوږدوالی درلود. د دې خاوري لمرپرېواته برخه په هغه خط سره ټاکله کېدله چي پارتيا يې له مديانه او کرمان يې له فارس او پاره تاکنه نه جدا کاوه. کهزاد ص ۵۵

هندي مورخين  دا سيمه آريانا ورته بولي او وايي چي د پامير له لمنو څخه نيولې، د هند تر شمالي سيمو او بيا د هند دکن تر شاوخوا پوري سيمي ته ويل کېدله. آرياناويجه، آرياناورشه، اريانارورته يا اريانا چي په هر نامه واخلو د تاريخ په اوږدو کي يې تغييرات ميندلي دي. د ټاکلي او مشخص هيواد په حيث نه بلکه د سيمي په حيث په يوه وخت کي پراخه سوې او په بل وخت کي وړه سوې ده. اريانا هيڅ وخت سياسي قلمرو نه بلکه يوه پراخه جغرافيايي سيمه وه چي اوسنی افغانستان به يې کله کله يوه برخه گڼله کېدله. پخپله افغانستان ته هيڅ وخت اريانا يا اريانارورته نه دی ويل سوی.

د غسي هم خراسان، چي په مطلع الشمس، آفتاب برآمد، او لمرخاته ترجمه سوی دی هيڅ وخت د افغانستان نوم نه وو بلکه د افغانستان ځيني سيمي يا ډيري سيمي هر وخت په خراسان کي شاملي وې.  طوس، هرات، نيشاپور او بادغيس هر وخت د خراسان مهم ښارونه ول او هرات هر وخت د خراسان تر ټولو مهم ستراتيژيک او حاصل خيزه ښاروو. مگر حدود يې هر وخت په تغيير کي وه. حدودالعالم وايي چي خراسان يوه ناحيه ده چي مشرق ته يې هندوستان دی جنوب ته يې د خراسان ځيني حدود دي مغرب ته يې د گرگان علاقي او د غور حدود دي او شمال ته يې د آمو سيند دی. وروسته وايي چي د خراسان او ماوراءالنهر پاچهی پخوا بېلي وې مگر اوس يوه پاچهي ده او د خراسان پاچا په بخارا کي کښيني او د سامانيانو زال دی چي د بهرام چوبين له اولادې څخه دی ص ۳۸۶

موږ گورو چي خراسان هم، چي د افغانستان مهم ښار هرات يې يو مهم مرکز وو، کله لوی او کله وړوکی کېدی. کله به له بغداد، کله به له هرات، کله به له ماوراءالنهر، سيستان او غزني څخه اداره کېدی.

وروسته گورو چي حدودالعالم د همدغه خراسان په ښارونو کي تر هر يوه مخکي غور يادوي ورپسي سيستان، فراه، بُست، زمين داور، غزني، کابل، پروان،  بدخشان د خراسان په ښارونو کي يادوي او د طوس، هرات، بادغيس، نيشاپور او مرو په څېر مهم ښارونه، چي هر وخت په خراسان کي شامل دي نه يادوي. ص ص ۳۹۳-۳۹۲

همدغه بُست، چي مخکي  د خراسان په ښارونو کي يادوي، وروسته يې په همدغه مخ کي د هندوستان په خاوره کي بولي او وايي چي د هيلمند د سيند پر غاړه پروت دی، محکمه قلا لري، ډېري ناحيي او کلي لري او د تاجرانو ځای دی. ص ۳۹۲

بل ځای ليکي« غزنين  او له هغه سره تړلي ښارونه د خلُخ په نوم ترکانو ځای دی او دغه خلخ نومي ترکان ډېر زيات پسونه لري او کوچيان دي او دغه د خلخ ترکان د بلخ، تحارستان  ، بُست او گوزگانان په شاوخوا کي هم زيات دي مگر


لطفاً مقالات خود را به اين آدرس ارسال بداريد | مهرباني وکړئ خپلي مقالي دي آدرس ته ولېږئ: info@arianafghanistan.com

غزنین او له هغه سره تړلي ښارګوټي د زابلستان برخې ګڼلې کېږي. پروان له نعمتونو ډک ښار دی، تاجران لري او په هندوستان کې دی» ص ۳۹۳

په همدغه مخ کې د کابل په باب لیکي چې هغه یو ښارګوټی دی چې ډېره ټینګه کلا لري. مسلمانان او هندوان دواړه ژوند پکښې کوي. په دې ښار کې ډېرې بتخانې دي او د قنوج راجا تر هغه وخته ځان پاچا نه بولي چې د دغه ښار د بتخانې زیارت یې نه وي کړی او د خپلې پاچهۍ بیرغ له همدغه ښار څخه پورته کوي. هغه ځای.

په احسن التقاسیم کې یې پوشنج، بادغیس، غرجستان، مرورود، تخارستان، بامیان، طوس، بلخ، غزنین، والشتان، مستونګ، شال، بست، هرات، جوزجان، مروشاه جهان، نیشاپور، بدخشان او ځینې نور ښارونه په خراسان کې یاد کړي دي، چې اکثر یې په اوسني افغانستان کې شامل دي مقدسي ص ص ۴۳۱-۴۳۰

مسالک و ممالک تقریبا همدغه سیمې د خراسان په حدودو کې راوړي او وایی چې د خراسان شرق ته سیستان او هندوستان پراته دي ځکه چې موږ غور، د خلج علاقه او د کابل شاوخوا ټول د هندوستان برخه وشمېرله. اصطخري ص ۲۰۲

په داسې حال کې چې د پخوانیو جغرافیو ډېر زیات کتابونه او آثار کابل د خراسان یو مهم ښار بولي؛ مګر ادریسي د چین، خراسان او سیند سره د کابل د نیل، چې وایی کیفیت یې ډېر عالي او مشهور دی، او د پنبه څخه تولید سویو نخي ټوکرانو د صادراتو خبري کوي. ایلیټ اینډ ډاوسن لومړی ټوک ص ۹۲

اصطخري نور تقریبا ټول هغه ښارونه په خراسان کې یادوي چې په حدودالعالم او احسن التقاسیم کې راغلي دي، مګر دا څلور واړه یاد سوي کتابونه او د جغرافیې نور کلاسیک کتابونه خراسان د اقلیم په نامه یادوي. موږ په هیڅ توګه پر هغه باندې د افغانستان نوم اطلاقولای نه سو، بلکه یوازې دونه ویلای سو چې دا سیمې اکثر په اوسني افغانستان کې شاملې وې نه دا چې د افغانستان پخوانی نوم خراسان یا آریانا وو. له بلې خوا ټول هغه کتابونه چې موږ ته د خراسان په باب معلومات راکوي دونه مغشوش دي چې سړی نه پوهېږي کومه سیمه او کوم ښارونه د خراسان وبولي. ځکه چې که ادریسي دا قول چې وایي کابل له چین، سیند او خراسان سره د نیل او پنبه اي ټوکرانو تجارت لري جدي ونیسو نو دا به څرنګه معلومو چې خراسان د کابل کومې خواته او په څونه پراخوالي پروت دی. او که کابل په خراسان کې نه وي او له خراسان سره تجارت ولري نو افغانستان به څرنګه خراسان بولو.کابل خو دلته ځکه په خراسان کې نه راځي چې ادریسي وایي له خراسان سره تجارت کوي. او که د حدودالعالم په قول، بُست او پروان په هندوستان کې وبولو نو بیا به خراسان کوم ځای ته وایو.

په انسایکلوپیډیا آف اسلام کې هم د خُراسان معرفي په داسې توګه سوې ده چې خاصې سیمې ته اشاره نه کوي بلکه وایي چې د اسلام په لومړنیو پېړیو کې د کسپین د بحیرې له جنوبي څنډو څخه تر نیشاپور، مرو، د پخواني شوروي اتحاد د مرکزي اسیا هیوادونه ان تر اندوس او سیند پورې سیمې شاملې وې. په دې توګه سړی په مشخصه توګه هیڅ هیواد د خراسان نامه ته نه سي منسوبولای؛ بلکه د افغانستان په شاوخوا کې ډېرو پرتو هیوادونو لړي او ډېرې سیمې په خراسان کې، چې اوس وجود نه لري، شاملې وې.

دغه راز، په اته لسمه پېړۍ کې د لوی احمدشاه بابا له خوا، د افغانستان له تاسیسېدلو څخه مخکې د افغانستان نوم هم دغه ته ورته مغشوش حالت لري.حتی د لومړي ځل لپاره چې په تاریخ نامه هرات کې د افغانستان نوم یاد سوی دی، مطلب یې دغه اوسنی افغانستان نه بلکه بېخي بېله سیمه ده چې هغه اوس د پاکستان د خیبرپښتونخوا په قلمرو کې شامله ده. د تاریخنامه هرات په نوم کتاب، چې سیف بن محمدبن یعقوب الهروي له نن څخه تقریبا اته سوه کاله مخکې لیکلی دی، لومړنی اثر دی چې تر شل ځله زیات د افغانستان یادونه کوي. په دې کتاب کې د هرات د پاچا شمس الدین کرت، چې د غوریانو له نسله وو، او د افغانانو د قهرمانانو ملک المار، شعیب افغان او سندان تر منځ د جنګونو تاریخ راغلی دی. د المارافغان سره د ملک شمس الدین کرت د جنګ په باره کې راغلي دي چې دې جنګ نهه پنځوس ورځې دوام


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولېږئ: info@arianafghanistan.com

وکړ. شمس الدين کرت د تيري قلا په جنګ ونيوله او امر يې وکړ چي المار دوه ځايه کړي يعني عذاب کشه يې کړي. شمس الدين کرت د افغانانو د ځېلو او وژلو څخه وروسته له افغانستان څخه بريالی تکيناباد ته راغی او ملک عزالدين تولک او مبارزالدين محمدنهي يي له دريو زرو عسکرو سره په تکيناباد کي پرېښودل. هروي ص ۲۰۷

سيف هروي، څو څو ځله، په افغانستان کي د افغانانو او ملک شمس الدين کرت ترمنځ د جنګونو يادونه کوي. مګر که تکيناباد، چي پنجوايي يې يو مهم ښار ښودل سوی دی او مرحوم عبدالحی حبيبي يې کندهار يا د کندهار علاقه بولي، په افغانستان کي شامل نه وي او ملک شمس الدين له افغانستان څخه تکيناباد ته راځي نو دا افغانستان کوم ځای ته ويل کيږي؟ د سيف هروي افغانستان اوسنی افغانستان نه وو بلکه د افغانانو ټاټوبي ته، چي د ټولو مورخينو په اتفاق، د سليمان د غرو لمني وي، افغانستان ويل کيدی. همدغه سيمه ده چي د « روه » په نوم ياديږي او له کابل او ننګرهار څخه، چي کله لا کندهار هم ورسره ياد سوی دی، تر اباسين پوري پروت دی. د اوسني افغانستان تيره، د اته لسمي پيړی په نيمايی کي، لوی احمدشاه بابا کښېښودله، چي له مشهد او نيشاپور څخه تر کشمير، ډهلي او سيند پوري پراخ وو، مګر افغانستان، د افغانانو د ټاټوبي په حيث، له هغه څخه څه باندي شپږ سوه کاله مخکي موجود وو او افغانانو د نن په څېر په زړه ورتوب او سربښندنو دفاع ورڅخه کوله.

دغه راز ضياءالدين برني، د څوارلسمي پيړۍ په سر کي، په ملتان کي، د ډهلی د سلطان محمد تغلق په مقابل کي د شاهو افغان د ښورښ يادونه کوي او وايی چي سلطان محمد د شاهو افغان د ښورښ د کرارولو لپاره روان سو او ملتان ته نه وو رسېدلی چي شاهو هغه ته عريضه واستوله او ورته ويې ليکل چي له ښورښ څخه يې لاس اخيستی او د سلطان اطاعت يې منلی دی. شاهو ملتان پرېښود او له خپلو افغانانو سره افغانستان ته ولاړ. برني ص ۶۸۸

البته برني هغه ټاکلي سيمه نه ښيي او يا يې نه سي ښودلای چي دی يې افغانستان بولي او شاهو افغان هغي سيمي ته تللی او خپلو افغانانو ته يې پناه وړی ده.

د احمدشاه بابا څخه څه باندي څلور سوه کاله مخکي، د مورخ ضياءالدين برني په شهادت، افغانستان موجود دی خو حدود او ثغور يې معلوم نه دي. د افغانانو ټاټوبی معلوم دی او سيف هروي او برني دواړه په تقريبا يوه سيمه کي د افغانانو او افغانستان يادونه کوي مګر په هغه وخت کي د افغانستان سياسي حدود معلوم نه وه.

افغانستان دغه اوسنی هيواد دی چي لوی احمدشاه بابا تاسيس کړی او يو وخت يې حدود له مشهد او نيشاپور څخه تر کشمير او په جنوب کي د هند تر سمندر پوري رسېدل. وروسته يې د لمسيانو د بې کفايتيو، داخلي جنګونو او ايران، انګليس او سيکهانو د دسيسو او يرغلونو له امله هغه سيمي هم له لاسه ورکړي چي له احمدشاه بابا څخه قرنونه مخکي د افغانستان په نوم يادېدلي او د افغانانو تاريخي ټاټوبی وو.

ماءخذونه

۱: فردوسي، حکيم ابوالقاسم. شهنامه فردوسي. ۱۸۶۴ چاپ بمبيی

۲: طبري، محمدبن جرير. تاريخ طبري يا تاريخ الرسل والملوک.چاپ اول ۱۳۵۲ تهران

۳: البلاذري، احمدبن يحيی. فتوح البلدان. بخش مربوط به ايران. ۱۳۴۶ انتشارات فرهنګ ايران.

۴: احمد بن ابي يعقوب. تاريخ يعقوبي. ۱۳۴۳ تهران

۵: مسعودي، علي بن حسين. مروج الذهب و معادن الجوهر. جلد اول ۱۳۸۷ تهران

۶: زيدان، جرجي. تاريخ تمدن اسلام. چاپ پانزدهم ۱۳۹۳. موسسه انتشارات امير کبير. ايران


لطفاً مقالات خود را به اين آدرس ارسال بداريد | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولېږئ: info@arianafghanistan.com

:۷ حدودالعالم. مولف نامعلوم. چاپ کابل ۱۳۴۲

:۸ اصطخري، ابواسحق ابراهيم. مسالک و ممالک. ۱۳۶۸ هجری چاپ سوم تهران.

:۹ مقدسي، ابوعبدالله محمدبن احمد. احسن التقاسيم. ۱۳۶۱ چاپ اول تهران

۱۰- هروي، سيف بن محمدبن يعقوب الهروي. تاريخنامه هرات. چاپ افسيټ گلشن. کلکته ۱۹۴۳

۱۱- برني، ضياءالدين. تاريخ فيروز شاهي. (أردو) مطبعه قيصر اکاډيمي حيدرآباد.

۱۲: Elliot,S.M and Prof John Dowson. The History of India Vol ۱ . ۱۹۹۰ Delhi.

۱۳: Encyclopedia of Islam. ۱۹۸٦

۱۴: کهزاد، احمدعلي: د افغانستان پخوانی تاريخ ، لومړی جلد. ۱۳۳۴ کال. کابل

۱۵: حبيبي، عبدالحی. تاريخ مختصر افغانستان. ۱۳۶۸ نشرات سازمان مهاجرين مسلمان افغانستان.



برای مطالب ديگر عبدالباری جهانی روی عکس کليک کنيد



لطفاً مقالات خود را به اين آدرس ارسال بداريد | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com